# د FTDM غونډې کله واقع کیږي؟

غونډې هر هغه وخت واقع کیږي کله چې د DCYF سره د ماشوم/ځوان لپاره د ځای پرځای کولو پریکړه په پام کې نیول کیږي. پدې کې د کور څخه د لرې کولو دمخه، د ځای پرځای کولو ثبات کول یا بدلول پداسې حال کې چې د کور څخه بهر وي یا بیرته کور ته لیږدولو لپاره یا دایمي ځای پرځای کول شامل دي.

کله چې راپورته کیدونکي ځای پرځای کول واقع کیږي FTDM باید په دوو کاري ورځو کې دننه ترسره شي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې هرڅوک خبر دي او د ماشوم (ماشومانو) اړتیاوې پوره کیږي.



"یوازې مونږ ډیر کم/الږ څه کولی شو؛ په ګډه مونږ ډیر څه کولی شو."

*Helen Keller -*

مونږ په لنډه خبرتیا د برخه اخیستو او په وخت سره غونډې ته د رارسیدو لپاره ستاسو د لیوالتیا ستاینه کوو.

## ستاسو د کورنۍ ټیم پریکړه کولو غونډه

نیټه: ______________________________

وخت: ______________________________

ځای/موقعیت: ______________________________

______________________________

______________________________

د قضیې کارکوونکی: ______________________________

ټلیفون: (        ) ______________________________

*DCYF* تبعیض نه کوي او د نژاد، رنګ، جندر، مذهب، عقیدې، ازدواجي حالت، ملي اصل، جنسي تمایل، عمر، تجربه کار یا پوځي حالت، یا د هر ډول فزیکي، حسي، یا رواني/ذهني معلولیت شتون په پام کې نیولو پرته د ټولو خلکو لپاره خپلو پروګرامونو او خدمتونو ته مساوي لاسرسی چمتو کوي.

که چیرې تاسو د دې خپرونې وړیا کاپیانو په بدیل بڼه یا ژبه کې لرل غواړئ، نو مهرباني وکړئ د *DCYF* اساسي اړیکو سره په *1-800-723-4831* شمیره یا بریښنالیک *communications@dcyf.wa.gov* له لارې اړیکه ونیسئ.

(DCYF PUBLICATION CWP_0039 | DSHS 22-1170 PA (03-2020) Pashto

# Family Team Decision Making Meetings

## (د کورنۍ ټیم پریکړې کولو غونډې)



Washington State Department of
CHILDREN, YOUTH & FAMILIES

## د FTDM غونډو کې څوک ګډون کوي؟

والدین، د کورنۍ غړي، د کورنۍ د ملاتړ سیستم، د DCYF د قضیې کارکونکي او څارونکي، د ټولنې استازي/نمایندګان، پاملرنه کوونکي، د 12 کلنۍ څخه پورته ماشومان (که چیرې مناسبه وي)، د قضیې اړخونو، ښوونکو، طبي وړاندې کونکو او نور خدمت وړاندې کونکو ته بلنه ورکول کیږي.

## د اغیزمنې غونډې لپاره لارښوونې

ټول برخه اخیستونکي په پرانستې او صادقانه توګه په پروسه کې په مثبته ډول ونډه اخلي، د کومې ژمنې په څرګندولو سره چې دوی یې کولو ته لیواله دي، د نورو محرمیت ته عزت ورکوي، د اوریدلو فرصت لري او ستاسو د ماشوم خوندیتوب اړتیاو باندې تمرکز کوي.

## څوک پریکړې کوي؟

د FTDM غونډو هدف ستاسو د ماشوم (ماشومانو) د خوندیتوب په اړه یو پرانیستي، صادقانه بحث/خبرو اترو او د لږترلږه محدود خوندي ځای پرځای کولو لپاره موافقې/تړون ته رسیدل دي. که چیرې تاسو برخه نه اخلئ یا موافقه/تړون ته ونه رسیږئ، DCYF ستاسو د ماشوم (ماشومانو) لپاره د خوندیتوب پریکړو لپاره واک او ذمه واري لري.

## په FTDM کې څه پیښیږي؟

غونډه د 1½ څخه تر 2 ساعتونو پورې دوام کوي او د یو داسې تسهیل کوونکي/اسانه کونکي لخوا به لارښوونه کیږي څوک چې د ماشومانو د هوساینې، محافظتي خدمتونو، قانونو او پالیسیو په اړه پوهه لرونکی وي. په غونډه کې به شامل وي:

- پیژندنې او د غونډې لارښودنې
- د کورنۍ، DCYF کارمندانو او برخه اخیستونکو لخوا وړاندې شوي تاریخچه، د خوندیتوب اندیښنې، پیاوړتیاوې او سرچینې.
- ستاسو د ماشوم اړتیاوې، ستاسو د کورنۍ پیاوړتیاوې او د ټولنې سرچینو پیژندنه
- د ځای پرځای کولو اختیارونو سپړنه، د خپلوانو او مناسبو نورو خلکو شاملولو لپاره، او همدارنګه د ځای په ځای کولو کې ممکنه خنډونه.
- ستاسو د ماشوم د سمدستي خوندیتوب لپاره د پلان رامینځته کول، د تعقیبي اقداماتو په شمول
- یو لیکل شوی پلان، چې بیانوي چې څه ترسره کولو ته اړتیا ده، څوک به یې وکړي او کله به دا ترسره شي.





## د کورنۍ ټیم پریکړې کولو غونډې

Family Team Decision Making (د کورنۍ ټیم پریکړې کولو غونډه، FTDM) هغه وخت واقع کیږي کله چې ستاسو د کورنۍ وضعیت کیدای شي ستاسو د پاملرنې څخه ستاسو ماشوم (ماشومانو) لرې کولو ته اړتیا ولري ترڅو د دوی خوندیتوب ډاډمن شي. اړونده کورنۍ او د ټولنې غړي په چټکۍ سره یوځای بلل کیږي ترڅو تاسو او د قضیې کارکونکي سره د داسې پلان په رامینځته کولو کې مرسته وکړي چې ستاسو د ماشوم (ماشومانو) اړتیاوې په ښه توګه پوره کړي.

یو روزل شوی تسهیل/اسانه کونکی غونډه پرمخ وړي ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې ټول خلک د خبرو کولو فرصت ولري او رامینځته شوی پلان ستاسو د ماشوم (ماشومانو) لپاره خوندیتوب وړاندې کوي. د هغو کسانو تخلیقی فکر او ژمنتیا چې ستاسو ماشوم پیژني د غوره پریکړې کولو لپاره خورا مهم دی.